## <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

# د قسطنطنيې د فتحې په اړه د لکچر راپور

حزب التحرير / نيدرلنډ د ۲۰۲۰م کال د جنوري په ۱۴مه د قسطنطنيې د فتحې په اړه يو لکچر تنظيم کړ. لکچر د نيدرلنډ (هالنډ) په پلازمېنه کې په برياليتوب سره پای ته ورسېد، الحمدلله.

لومړي ويناوال ميکايل د سلطان محمد الفاتح پر ژوند خبرې وکړې، چې د قسطنطنيې د فتحې وياړ يې تر لاسه کړی. همدا راز په بېلابېلو مهمو عناصرو يې ټينګار وکړ، چې موږ يې نن ورځ هم ترې زده کولی شو. لکه د قسطنطنيې د کلکو ديوالونو په پرانيستلو کې د محمد الفاتح او د هغه د لښکرو صبر او زغم. تر ټولو مهمه دا چې پر الله سبحانه وتعالی او د هغه پر ژمنې باور د برياليتوب کلی ده.

دويم لکچر د حزب التحرير / هالنډ د مطبوعاتي استازي «اوکی پالا» چمتو کړی و. هغه د الله سبحانه وتعالی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ژمنې په اړه د مسلمانانو د چلند پر ارزښت خبرې وکړې. لکه څنګه چې د تېرو نسلونو مسلمانانو د قسطنطنيې په فتحه کولو کې صبر او زغم درلود، همدا ډول اوسني مسلمانان هم بايد د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ژمنې په اړه صبر او زغم ولري، يعنی اسلامي دولت به حتمي بيرته راګرځي. سربيره پر دې چې موږ په تياره وخت کې ژوند کوو او په اسلامي خاورو کې د ننه او بهر هرچېرې د ظلم بېلابيل ډولونه ګالو. سربېره پر دې مسلمان بايد ځانونه دې ته ژمن وبولي، چې د خلافت د بېرته راتلو ژمنې عملي کړي.

لنډه دا چې، د قسطنطيې فتحه زموږ لپاره يوه يادونه ده، که څه هم چې امت د وخت په تيارو کې شپې او ورځې تېروي. د رسول الله صلی الله عليه وسلم د زيري وړاندوينه رښتينې ده، يعنې دغه زيری به په حقيقت کې رښتيا شي او مسلمان يې بايد پر وړاندې ځان بې پروا ونه بولي. ځکه چې د نبوت په طريقه د خلافت بيرته ستنيدو ژمنه تر هغه پورې رښتيا کيدلی نه شي، ترڅو چې موږ د الله سبحانه وتعالی له رضا سره دغه هدف ته ځانونه ژمن نه کړو. دا بيا يوازې هغه وخت کولی شو چې د محمد الفاتح په شان دويم انصار شو، ترڅو په اسلامي خاورو کې اسلامي دولت (خلافت) تاسيس کړو

**حزب التحرير ـ نيدرلنډ مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱هـ ق کال، د جمادي الاول ۲۴مه**

**۲۰۲۰م کال، د جنوري ۱۹مه**

**گڼه: ٦/۱۴۴۱**